# پهٔ حق او باطِل

# کښې فرق کوونکے

11 June 2026



(For Islamic Brothers)

هفته وار د سنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سنّتو ډک بیان

پهٔ 11 جون، کال 2026ء (25 ذو الحج شریف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# پهٔ حق او باطِل کښې فرق کوونکے

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د فاروق لقب وضاحت
- د حق د قبلولو نا اشنا انداز
- شیطان ویرېږي او تښتي
- د ښه اِنسان نخښې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

حضرت شیخ احمد بن ثابت مَغربي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: یوه ورځ ما دیوال ته ډېره وهلې وه او د قِبلې طرف ته مې مخ کړے وو او د درودِ پاک پهٔ موضوع باندې مې مضمون ترتیب کولو، ناڅاپه پهٔ ما پرکالې راغله او سترګې مې ورغلې- ما پهٔ خوب کښې د **الله** پاک مقربې فرښتې ◈ حضرت جبرائیل ◈ حضرت میکائیل ◈ حضرت اِسرافیل ◈ او حضرت عزرائیل عَلَيْهِمُ السَّلَام ولیدل- (د دریو مقربو فرښتو سره د خبرو ذِکر کولو نه پس شیخ احمد بن ثابت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:) ما حضرت عزرائیل عَلَيْهِ السَّلَام ته عرض اوکړو: زهٔ د **الله** پاک او د هغهٔ د خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وسیله درته خواست کووم چې تاسو زما نهٔ د ساه اخستو پهٔ وخت زما سره نرمي اوکړئ- (هغوئي) وفرمائیل: پهٔ رسولِ اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډېر ډېر درودِ پاک لوله- (1)

---

[1]... سعادة الدارين، صفحه:125 ملخصًا-

آس ہے کوئی نہ پاس ایک تمہاری ہے آس | بس ہے یہی آسرا تم پہ کروڑوں درود[1]

**وضاحت:** یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستا نه علاوه مې پۀ چا پورې هم اُمید نۀ دے تړلے، نۀ څوک داسې شته چې اُمید ورپورې وتړلے شي، زما خو بس هم تاسو اسره او ملاتړ یئ، پۀ تاسو باندې دې پۀ کروړونو درودونه وي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي: **اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات** د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے۔ [2]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ◈ پۀ اَدب به کښینم ◈ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دے باطِل نۀ خوښوي

حضرت اَسوَد بِن سَرِیع رَضِیَ اللهُ عَنْهُ صحابی رسول دے، د **بَنو تَمِیم** قبیلې سره یې تعلق

---

[1]… سعادۃ الدارین، صفحه:125124 ملخصًا۔

[2]… بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

لرلو، هغوئي د خپلې قبيلې ډير مشهور او نامتو شاعِر (*Poet*) وو، د مدينے منورې نه به لرې اوسيدو، دې وجې نه پهٔ مدينه منوره کښې د اوسيدونکو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم سره هغوئي ډير اشنا نهٔ وو- د هغوئي ډير ښکلے عادت مبارک وو چې شعرونه به يې پهٔ محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې چيک کول-

روايت دے: يو ځل هغوئي دربار رسالت ته حاضر شو، عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ما د **الله** پاک حمد او ستاسو نعت مبارک ليکلے دے (حُضُور ته يې واوروم---؟)- وه يې فرمائيل: اِنَّ رَبَّكَ يُحِبُّ الْحَمْدَ يعنې ستا د رَبّ خپل حَمد ډير خوښ دے (راوړه واوروه---!!)- نو حضرت اَسوَد رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خپل ليکلي شعرونه بيانول شروع کړل- فرمائي: ما لا خپل شعرونه لوستل چې پهٔ دې کښې د يو اوږد قد والا کَس حاضر شو، هغه د دننه راتللو اِجازت وغوښتو، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فوراً زهٔ چپ کړم، بيا هُغه کَس دننه راغلو، د خپل ضرورت چې کومه خبره خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته کول وو، وه يې کړه او لاړو، حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: مخکښې شعرونه لوله---!! ما بيا لوستل شروع کړل! لږ ساعت تېر شوے وو چې هُغه کَس بيا راغلو، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زهٔ بيا چپ کړم- کله چې هغه لاړو نو بيا د مخکښې لوستلو اِجازت ميلاؤ شو- درې ځل داسې وشول- اخر ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا کَس څوک دے، کله چې راځي نو تاسو ما چپ کوئ؟ وه يې فرمائيل:

هٰذَا عُمَر، هٰذَا رَجُل لَا يُحِبُّ الْبَاطِلَ

**يعني:** دا عمر دے، دا هُغه گَس دے کوم چې باطِل نۀ خوښوي-[1]

يعني زۀ تا څکه چپ کووم چې هسې نۀ تۀ د **الله** پاک پۀ حَمد کښې څۀ غلطي اوکړې! زۀ خو **رَحمةٌ لِّلعَالَمِين** يم، زۀ به پۀ نرمۍ او پۀ **محبت** سره غلطي صحيح کړم خو که عمر [رَضِیَ اللهُ عَنهُ] د **الله** پاک پۀ شان کښې څۀ غلط لفظ واوريدو نو هغه به يې برداشت نکړے شي-

فارِقِ حق و باطِل امامُ الهُدٰی | تیغِ مَسلُولِ شِدَّت پہ لاکھوں سلام[2]

**وضاحت:** فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنهُ پۀ حق او پۀ باطِل کښې فرق کوونکے، د هدايت اِمام، د دِينِ اِسلام د دښمنانو او د ظالمانو خلاف راويستې توره وه، پۀ هغوئي دې پۀ لکونو سلامونه وي-

## خپل شِعرونه په اهلِ عِلم چيک کوئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې روايت پۀ رڼا کښې د حضرت اَسوَد رَضِیَ اللهُ عَنهُ پۀ **محتاط** طبيعت (***Cautious nature***) باندې غور اوکړئ! د **الله** پاک حمد او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت ليکلو والا شاعِر کېدل ډيره د سعادت خبره ده، د دې سره سره د حضرت اَسوَد رَضِیَ اللهُ عَنهُ اِحتياط مرحبا--!! هغوئي به خپل شِعرونه دربار رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته وړاندې کول او د هغې تفتيش (***Inspection***) به يې کولو-

---

[1] …معرفة الصحابه لابي نعيم، جلد:1، صفحه:255 بتصرف -

[2] …حدائقِ بخشش، صفحه:312-

نن سبا دلته هم ډېر خلق د شاعرۍ شوق لري بلکې نن سبا دا يو فيشن هم جوړشوے دے، د بعضو خو تعليم هم دومره نهٔ وي، دِيني معلومات خو ورسره بيخي کم وي بلکې د نشت برابر وي، د دې باوجود هغوئي حمدِيه شعرونه لېکي، نعتونه لېکي او داسې داسې غلطياني کوي چې اَلاَمَان وَالحَفِيظ---!! بلکې عام دُنيائي شعرونه چې کوم لېکي پهٔ هغې کښې هم ډېرې غلطۍ وي بعضې وخت خو د کُفر الفاظ هم لېکي او هغوئي ته هډو پته نهٔ وي- بيا شرعِي تفتيش---!! د دې خو دلته هډو رِواج نشته، پهٔ دِماغو کښې د لرې لرې پورې خيال هم نهٔ راځي چې دا هم د کولو څهٔ کار دے- بس څهٔ چې پهٔ ذِهن کښې راځي لېکي يې-

## د بيهوده شاعرۍ مذمت[غندنه]

اللّٰه پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ○ اَلَمْ تَرَ اَنَّهُمْ فِيْ كُلِّ وَادٍ يَّهِيْمُوْنَ ○ وَاَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ (پاره:19، سورهٔ شُعَراء:226224) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او د شاعرانو تابعداري خو ګمراه خلق کوي- آيا تا وه نهٔ لېدل چې شاعِران پهٔ هره کنده کښې سرګردانه ګرځي- او دا، چې هغوئي داسې خبره کوي پهٔ کومه چې عمل نهٔ کوي- |

يعنې د شاعِرانو (***Poets***) دا عادت وي چې ◈ دروغ او باطِل شعرونه لېکي ◈ د بے حيايۍ او فحاشۍ خبرې کوي ◈ کله خو د فخر او تکبر نه ډک خپل تعريفونه شروع کړي ◈ کله د نورو غندنه شروع کړي ◈ چې تعريفونه شروع کړي نو زمکه او اسمان يو کړي ◈ چې بد بيانول شروع کړي نو لوئي لوئي خلق کم تر ښودل شروع کړي، فرمائي:

يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ

يعنې پۀ داسې بے عِلمه شاعِرانو پسې تلل، د هغوئي شِعرونه اورېدل، يادول، نورو ته بيانول تېوله گمراهي ده۔[1]

د داسې شاعِرانو اَنجام څۀ دے؟ واورئ! الله پاک فرمائي:

وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْۤا اَیَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ (پاره:19، سورۀ شُعَراء:227)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او نزدې ده چې ظالِمان به پوهه شي چې پۀ کومه ډېره به اَوړي۔

يعنې د قيامت پۀ ورځ چې به کله دوئي دوزخ ته غورځولے شي نو وه به وينې چې د دوزخ پۀ کومه ډېره کښې غورځيږي ۔[2]

## د بے حيايۍ نه ډک شعرونه يادول څنګه---؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې د بے حيايۍ نه ډک، د عِشقِيَه او فِسقِيَه شعرونه وئيل هم غلط دي او دا اورېدل، اورول، يادول هم غلط دي۔ پۀ حديثِ پاک کښې دي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: که پۀ تاسو کښې د چا خېټه د نَو نه ډکه شي نو د هغې نه بهتره ده چې د هغۀ خېټه د شعرونو نه ډکه وي۔ [3]

---

[1]… صراط الجنان، پاره:19، سورۀ شُعراء، زيرِ آيت: 224، جلد:7، صفحه:171 ملخصاً۔

[2]… صراط الجنان، پاره:19، سورۀ شُعراء، زيرِ آيت:227، جلد:7، صفحه:175۔

[3]… بخاری، کتاب الآداب، باب مايکره ان يکون الغالب...الخ، صفحه:1527، حديث:6155۔

## شاعِر له څنګه کېدل پکار دي---؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! **الله** پاک دې زمونږ د دُنيا او د اخِرت خيرونه نصيب کړي- خبره راغله نو دا هم واورئ چې شاعِر له څنګه کېدل پکار دي---؟ **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ ذَكَرُوا اللّٰهَ كَثِیْرًا (پاره:19، سورهٔ شُعَراء:227) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: مګر هُغه خلق چې اِيمان يې راوړلو او هغوئي ښه کارونه اوکړل او الله يې ډير ياد کړو- |

يعنې پهٔ شاعِر کښې درې صفتونه پکار دي: **(1)**: چې د هغهٔ اِيمان پوخ وي، د دې نه اِشاره ميلاؤيږي چې شاعِر ته د کُفر د الفاظو پهٔ باره کښې پوره عِلم پکار دے، ګنې شاعِران به د شعرونو د وزن پهٔ برابرولو برابرولو د کُفر الفاظ هم وليکي **(2)**: نيک کار کوونکے وي، نن سبا دې ته د ډير خيال کولو ضرورت دے، دلته چې شاعِر وي او پهٔ نشه، بے پردګۍ، فحاشۍ وغيره کښې راګير نشي، ډيره ګرانه ده **(3)**: د الله ډير ذِکر کوونکے وي، علمائے کرام فرمائي: د دې معنیٰ دا ده چې هغه شاعِري کوي نو چې پهٔ هغې کښې د **الله** پاک ذِکر وي، د **الله** پاک حمد ليکي، نعتونه ليکي، د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو او اوليائے کرامو منقبتونه ليکي، د عِشق او فِسق د شاعرۍ طرف ته هېڅکله هم نهٔ ځي-[1]

## د اميرِ اهلِسُنَّت کمال تقویٰ

ښه اوس مرحله راځي د خپلو شعرونو د چيک کولو- يعنې دُنيائي او فضول قِسمه

---

[1]…صراط الجنان، پاره:19، سورهٔ شُعراء، زيرِ آيت:227، جلد:7، صفحه:174 بتصرف-

شاعِري خو هېڅو کول نهٔ دي پکار، حمد لیکل دي، نعت لیکل دي، منقبت لیکل دي، دا مو ولیکلو، بیا دا چیک هم کړئ، چا ښه، ماهره، پهٔ دارُ الافتاء کښې حاضرِ سروس عاشقِ رسول مفتي صاحب ته خپل شِعرونه وښایئ- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه دا هم یو ډیر ښه معمول دے چې هغوئي صرف او صرف دِیني شاعري کوي او مَاشَآءَالله! هغوئي بهترین او ډیر ماهره عالِم هم دے، د عِلمِ دِین نازک والے ډیر ژور پیژني ، د دې باوجود د هغوئي تقویٰ ده چې خپل هر یو شعر پهٔ مفتي صاحب باقاعده چیک کوي- څوک څوک چې شاعِري کوي یا اوري، یا شعرونه یادوي، هغوئي له دا انداز اِختیارول پکار دي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تعارف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! نوے اِسلامي کال ډیر زر شروع کیدونکے دے، وړومبی اِسلامي میاشت مُحَرَّم شریف به ډیره زر تشریف راوړي، د دې میاشتې وړومبے تاریخ د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شهادت ورځ ده- ◈ حضرت عُمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډیر د اوچتې مرتبې صحابي دے ◈ پهٔ دنیا کښې د هغوئي نوم مبارک **عمر** دے ◈ پهٔ اسمانونو کښې هغوئي د **فاروق** پهٔ نوم پیژندلے شي ◈ پهٔ اسماني کتاب تورات شریف کښې د هغوئي نوم **مَنْطِقُ الْحَقّ** (یعني حق خبره کوونکے) دے ◈ پهٔ انجیل شریف کښې د هغوئي نوم **کَافِي** دے ◈ او پهٔ جَنَّت کښې به

د هغوئي نوم مبارک سِراج (يعنې ډيوه) وي- (1)

◈ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پۀ مکه مکرمه کښې دنيا ته تشريف راوړے ◈ د يو روايت مطابق هغوئي د 39 نارينۀ نه پس مسلمان شوے، (2) ځکه هغوئي ته مُتَمِّمُ الۡاَرۡبَعِين (يعنې د 40 شميره پوره کوونکے) وئيلے شي- ◈ سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د اسلام راوړلو د پاره دعا اوکړله، ځکه هغوئي ته مُرادِ رسول هم وئيلے شي- (3) د هغوئي عدل او اِنصاف بے مثاله وو، ځکه هغوئي ته اَعۡدَلُ الۡاَصۡحَاب (يعنې پۀ صحابۀ کښې د ټولو نه زيات عدل کوونکے) ووئيلے شو- (4) ◈ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ 63 کاله پۀ دُنيا کښې تشريف فرما وو ◈ تقريباً 10 کاله 5 مياشتې او 21 ورځو پورې يے پۀ ښه انداز کښې د خِلافت فريضې ترسره کړې (5) ◈ اخر د مُحَرَّم شريف پۀ وړومبي تاريخ شهيد کړے شو او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خوا کښې د شين ګنبد لاندې يے د دفن کيدو سعادت حاصل کړو-

حیاتی میں تو تھے ہی خدمتِ محبوبِ خالق میں | مَزار اب ہے قریبِ مصطفٰے فاروقِ اَعظَم کا (6)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]… الرياض النضرة، الباب الثانی، فی مناقب عمر بن خطاب، صفحه: 235-

[2]… معرفة الصحابة، باب الارقم بن ابی الارقم، جلد: 1، صفحه: 293 خلاصةً-

[3]… فيضانِ فاروقِ اعظم، جلد: 1، صفحه: 54-

[4]… فيضانِ فاروقِ اعظم، جلد: 1، صفحه: 51-

[5]… تاريخِ اوسط، صفحه: 50، رقم: 373-

[6]… کراماتِ فاروقِ اعظم، صفحه: 7-

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نیک مؤمِن دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ شان کښې ډیر آیتونه نازل شوي دي، د برکت د پاره یو آیت واورئ! اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ وَ جِبْرِیْلُ وَ صَالِحُ الْمُؤْمِنِیْنَ (پاره:28، سورۂ تحریم:4) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو بے شکه اللّٰه پخپله د هغهٔ مددګار دے او جبریل او نیک اِیمان والا۔ |

د حضرت عبد اللّٰه بن مَسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے، رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې آیت پهٔ تفسیر کښې فرمائي: صَالِحُ الْمُؤْمِنِیْنَ اَبُوْبَکْرٍ وَّعُمَرُ یعنې په دې آیت کښې د نیک مؤمِن نه مُراد ابو بکر صِدِیق او عمر فاروق اعظم (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهما) دي۔[1]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## حق د عمر پهٔ ژړهٔ کښې ایښودے شوے دے

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّ اللّٰهَ جَعَلَ الْحَقَّ عَلٰی لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِهٖ بے شکه اللّٰه پاک د عمر پهٔ ژبه او زړهٔ باندې حق ایښودے دے۔[2]

پهٔ یو حدیثِ پاک کښې دي: د انبیاؤ سَروَر، آقائے عمر صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: پهٔ

---

[1]...معجم کبیر، جلد:5، صفحه:146، حدیث:10326۔

[2]...ترمذی، ابواب المناقب، باب فی مناقب ابی حفص...الخ، صفحه:839، حدیث:3691۔

اسمان کښې داسې هيڅ يوه فرښته نشته چې د عمر عزت نهٔ کوي او پهٔ زمکه کښې هيڅ يو شيطان داسې نشته هغه د عمر نه لرې نهٔ تښتي۔[(1)]

## د فاروق لقب وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ډېر مشهور لقب دے: فَارُوق۔ دا دومره مشهور لقب دے چې ډېرو خلقو ته خو معلومه هم نهٔ ده چې د هغوئي اصلي نوم عمر دے۔ عام طور خلق عمر فَارُوق د هغوئي نوم ګڼي۔ حالانکې عُمر د هغوئي نوم دے او فارُوق د هغوئي لقب دے۔

د فَارُوق معنیٰ ده: پهٔ حق او پهٔ باطِل کښې فرق کوونکے۔ د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پهٔ پاک طبيعت کښې دا ډېر نا اشنا خاصيت وو چې هغوئي به باطِل بالکل نهٔ برداشت کولو۔

## زهٔ حق نشم پټولے

کله چې هغوئي اِسلام قبول کړو نو هُغه وخت لا پهٔ مکه مکرمه کښې مشکلات وو، د مکے کافرانو به مسلمانانو ته تکليفونه رَسَوَل، لهذا چې څوک به هم نوے مسلمانېدو نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به في الحال هغهٔ ته د خپل اِيمان پټ ساتلو فرمائيل۔ روايت دے: کله چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ کلمه ووئيله نو خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: أُسْتُرْهُ اے عمره! خپل اِيمان پټ ساته---!! هغوئي پهٔ ادب

---

[1]...جامع صغير، صفحه:486، حديث:7954۔

سره عرض اوکړو: (دا به زما نهٔ وه نهٔ شي)

وَالَّذِی بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَاَعْلَنَنْتُهُ كَمَا اَعْلَنْتُ الشِّرْكَ

پهٔ هُغه ذات مې دې قَسم وي کوم چې تاسو د حق سره راليږلي يې، لکه څنګه چې به ما شِرک ښکاره کولو، اوس به حق پرستي هم ښکاره کووم-[1]

## د حق د قبلولو نا اشنا اِعلان

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پهٔ دې موقع باندې يوه ډېره خوندوره واقعه وشوه، حضرت فارُوقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کلمه خو پهٔ **دارِ اَرقم** (***Dar Arqam***) کښې وئيلې وه، پهٔ مکه مکرمه کښې چا ته هم معلومه نهٔ وه چې هغوئي مسلمان شوي دي- دا خبره هغوئي نهٔ شوه زغملے- هغوئي پهٔ حقه باندې وو او ټولو ته يې وئيل غوښتل- پهٔ طريقه باندې يې سوچ کولو چې داسې څهٔ اوکړے شي چې خلقو ته معلومه شي چې زهٔ مسلمان شوے يم-

دې د پاره چې هغوئي کومه طريقه اِختيار کړه، زهٔ يې د يو څو روايتونو پهٔ راجمع کولو سره عرض کووم، هغوئي د يو غير مسلمه کور ته لاړو، دروازه يې وډبوله، هُغه ګس بهر راووتلو، هغوئي ورته ووئيل: معلومه ده درته چې زهٔ مسلمان شوے يم- هغهٔ پهٔ حيرانتيا سره ووئيل: واقعي؟ وه يې فرمائيل: آؤ واقعي- پهٔ دې اورېدو هغه ووئيل: اے عمره داسې مهٔ کوه! دا يې ووئيل او دروازه يې بنده کړه-

هغوئي پرېشانه شو چې دا څهٔ خبره شوه، هغه خو هډو هيڅ وه نهٔ وئيل، نورو ته يې

---

[1]...مصنف ابن ابي شيبه، كتاب المغازى، اسلام عمر بن الخطاب، جلد:8، صفحه:452، حديث:1۔

هم هڅو وه نهٔ وئيل- بيا هغوئي د قريشو د يو بَل لوئي سردار کور ته لاړو، دروازه يـې وډبوله، هغه سردار بهر راغلے، هغه ته يـې ووئيل چې زهٔ مسلمان شوے يم، هغه هم هغوئي د اِسلام راوړلو نه منع کړو او غلے لاړو او دروازه يـې بنده کړه- داسې هغوئي د يو يو دروازې ته تللو خو کوم مقصد چې وو چې ټولې مکے مکرمې والا ته زما د مسلمانيدو پته ولګي، هغه حاصل نهٔ شو، بيا هغوئي سوچ اوکړو چې د اِسلام د ټولو نه لوئي دښمن ابو جهل دے، د هغهٔ خوا له ورځم، هغوئي د هغهٔ کور ته لاړو، هغهٔ ته چې يـې ووئيل نو هغه هم ډېر بزدله وختو، هغه هم غلے لاړو او دروازه يـې بنده کړه-[(1)]

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ مکه مکرمه کښې يو رُعب وو، ځکه خوک هم هغوئي ته د تکليف رسولو د پاره نهٔ تياريدو، ټول د هغوئي نه ويريدل- فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سوچ کولو چې زهٔ پهٔ مکه مکرمه کښې د خپل اِسلام اِعلان څنګه اوکړم؟ اخر يـې ذِهن ته يو طريقه راغله ، هغوئي د خلقو نه پوښتنه اوکړه: مَنۡ اَنَمُّ النَّاسِ پهٔ مکه مکرمه کښې د ټولو نه لوئي چغل خور څوک دے؟ ووئيلے شو چې فلانکے د ټولو نه لوئي چغل خور دے، هغوئي د هغهٔ خوا له لاړو، وه يـې فرمائيل: معلومه ده درته چې زهٔ مسلمان شوے يم--- خو ګوره! چا ته مهٔ وايه---!![(2)]

يعني هغوئي يوه طريقه استعمال کړه چې هغه خو وو چغل خور، هغهٔ ته يـې قصداً ووئيل چې چا ته مهٔ وايه د پاره د دې چې هغه زر زر دا خبره خوره کړي- لا هغوئي هلته

---

[1] ...سيرت ابن ہشام، جز:1، جلد:1، صفحه:224 ملخصاً-

[2] ...مسند بزار، جلد:1، صفحه:260، حديث:156-

ناست وو چې هُغه ګَس د مسجدِ حرام طرف ته روان شو، هغوئي پوهه شو چې چل مې کامياب شو- هغوئي هم پهٔ هغه پسې وروستو وروستو روان شو، هغه چې کله مسجدِ حرام ته ورسېدو، هلته ډير کافران او د هغوئي لوئي لوئي سرداران راجمع وو، هغه پهٔ تيز اواز ووئيل: اَلَااِنَّ عُمَرَقَدۡ صَبَاَ خلقو--!! واورئ--!! بے شکه عمر صَابِي (يعني بے دِينه) شوے دے- هغوئي وفرمائيل: تا دروغ ووئيل، زهٔ صَابِي (يعني بے دِينه) شوے نهٔ يم بلکې صحابي شوے يم-[1]

بہارِ باغِ ایماں، حضرت فاروقِ اعظم ہیں | چراغِ بزمِ عرفاں، حضرت فاروقِ اعظم ہیں
نمایاں آپ کی ہر اِک ادا سے شانِ فاروقی | خدا کی تیغِ بُرّاں ، حضرت فاروقِ اعظم ہیں [2]

**وضاحت:** د اِيمان د باغ سپرلے او د معرفت د محفل شمع د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د ذات والا صفتونه دي، د هغوئي د هرې ادا نه پهٔ حق او پهٔ باطِل کښې فرق ښکاري، داسې ووايئ چې د هغوئي ذات د **الله** پاک د تيرې تورې پهٔ شان دے-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## حق نهٔ پټولے کيږي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ جذبې ته وګورئ--!! هغوئي کلمه وئيلې ده، دا خبره اوس د پټيدو نهٔ ده، د وئيلو ده- هغوئي پهٔ کوم اِهتمام سره خلقو

---

[1] ...ابن حبان، کتاب اخبارہ عن مناقب الصحابة، ذکر وصف اسلام عمر...الخ، صفحه:1833، حديث:6879۔

[2] ...دیوانِ سالک، صفحه:73۔

ته ووئيل چې **عمر مسلمان شوے دے**-

دلته خلق خپل ځان پټوي- مثلاً ◈ ډير نـمونځ ګزاره خلق ږيرې نۀ پريږدي ◈ عمامه شريف نۀ پۀ سر کوي چې خلق به مو **مولا** ګڼي-

واه څومره ښه خبره ده---!! وروره---! دا خو ضروري ده، خلقو ته ګڼل پکار دي چې زۀ **مولا يم** پۀ دې کښې د شرم څۀ خبره ده ◈ ځينې خلق د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي سره ډير محبت کوي، ډېر زيات محبت کوي خو پۀ خپل عمل سره يـې نۀ ښرګندوي، مثلاً عمامه نۀ پۀ سر کوي، د سُنَّتو مطابق جامې نۀ اغوندي، عطّاري وي او بيا هم د خپل نوم سره عطّاري نۀ ليکي- وروره ولې داسې کوې؟ ځکه چې خلق به ما **اِسلامي ورور** ګڼي- بعضو ته شيطان دا بانه وښائي چې زۀ پۀ مارکيټ کښې يم، دروغ وغيره هم وئيل وي، که ما عمامه پۀ سر کړه نو زما پۀ وجه به د دعوتِ اِسلامي بدنامي کيږي- داسې خلق پوهه کول پکار دي چې ورور جانه! بغير د عمامې نه هم دروغ وئيل ګناه ده- تاسو ښرګنده کړئ چې تاسو اِسلامي ورور يـئ او د دروغو نه هم ځان بچ کړئ! تاسو وښايئ چې تاسو دعوتِ اِسلامي والا يـی او د داسې کارونو نه هم ځان بچ کړئ کوم چې د دعوتِ اِسلامي د بدنامۍ سبب جوړيږي- بهر حال چې حق مو اِختيار کړو نو بيا ويره د څۀ، ښکاره يـې اِظهار اوکړئ چې آؤ! زۀ حق منونکے يم- اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي کنه:

اے دِل یہ سلگنا کیا، جلنا ہے تو جَل بھی اُٹھ | دَم گھٹنے لگا ظالم کیا دُھونی رَمائی ہے[1]

وضاحت: يعنې اے زړۀ---!! پۀ عشقِ رسول کښې غلے غلے ولې سوځيږې؟ دا لوګے دې ولې شروع کړے دے، ښه پۀ زور او شور سره وسوزه، د عشقِ رسول ښه ښکاره وور بَل کړه د پاره د دې چې ټولو ته معلومه شي چې دا عاشقِ رسول دے-

## حق مۀ پټوئ---!!

اللّٰه پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ تَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ<br>(پاره:3، سورۀ آلِ عمران:71) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او حق ولې پټوئ حالانکې تاسو پوهيږئ- |

معلومه شوه چې حق نۀ دې پټول پکار ◈ تاسو عاشقِ رسول يئ ◈ تاسو مولا يئ ◈ تاسو دِين دار يئ ◈ تاسو مذهبي ذِهن لرئ ◈ تاسو د عاشقانِ رسول سره محبت لرئ نو دا مۀ پټوئ! پۀ خپل عمل سره، پۀ خپلو خبرو سره، پۀ خپل کردار سره، پۀ ظاهري حُليې سره د دې اِظهار اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دې برکتونه به پخپله ووينئ-

## فاروق لقب څنګه ميلاؤ شو---؟

حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما فرمائي: ما د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰه

[1]...حدائقِ بخشش، صفحه:192-

عَنۡهُ نه پوښتنه اوکړه: تاسو ته فاروق ولې وئیلے کیږي؟ وه یـې فرمائیل: حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ زما نه درې ورځې مخکښې اِسلام قبول کړو- بیا اللّٰه پاک زما سینه د اِسلام د پاره فراخه کړه او ما کلمه ووئیله او مسلمان شوم- هٰغه وخت صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم دومره پهٔ تیزه د نعره تکبیر اواز اوکړو چې د هغوئي اواز پهٔ کعبة الله شریف کښې واوریدے شو- ما عرض اوکړو: یا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آیا پهٔ ژوند او مرګ دواړو حالتونو کښې مونږ پهٔ حق باندې نهٔ یو؟ وه یـې فرمائیل: **ولې نهٔ- پهٔ اللّٰه پاک مې دې قَسم وي! تاسو پهٔ حق باندې یـئ-** ما عرض اوکړو: یا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! بیا مونږ پټ پټ ولې اوسیږو؟ پهٔ هٰغه رَبّ مې دې قَسم وي کوم چې تاسو راولیږلې مونږ به ضرور بهر ووځو- نو مونږ د دواړو جهانو مالِک او مختار، مکي مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې بهر راوویستو چې زمونږه 2 صفونه وو، پهٔ وړومبي صف کښې حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ او پهٔ وروستي صف کښې زهٔ ووم- مونږ چې مسجدِ حرام ته داخِل شو نو کافرانو یو نظر ما ته او بل نظر حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ ته اوکړو نو پهٔ هغوئي باندې داسې وِیره راغله کومه چې پرې د دې نه مخکښې چرې هم نهٔ وه راغلې- پهٔ هٰغه ورځ خَاتَمُ المُرسَلِین، رَحمَةٌ لِّلعَالَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما نوم **فاروق** کېښودو، ځکه چې اللّٰه پاک زما پهٔ وجه پهٔ حق او پهٔ باطِل کښې فرق وفرمائیلو-[(1)]

| | |
|---|---|
| دوسرے بر حق خلیفه نائبِ میرِ حجاز | شوکتِ اسلام کا وه اک نشانِ امتیاز |
| نامِ نامی تها عمر جن کا، لقب فاروق تها | پیکرِ عَزم و حَمِیّت، صاف ظاهر پاکباز |

[1]... حلية الاولياء، جلد:1، صفحه:75، رقم:93 ملخصاً-

**وضاحت:** د **الله** پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دويم بر حقه خليفه د کوم نوم چې **عمر** او لقب **فاروق** دے، د اِسلام د شان او شوکت د اِمتياز نخښه ده- هغوئي د کلکې اِرادې او حوصلې، دِيني غيرت، د ظاهر او د باطِن د پاکوالي آئينه وو-

## الله پاک فارُوق لقب ورعطا کړو

حضرت نَزَّالِ بنِ سَبْرَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ مونږ د مسلمانانو څلورم خليفه عليُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته عرض اوکړو چې مونږ ته د حضرت عمر بن خطاب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ باره کښې څهٔ اِرشاد کړئ- وه يې فرمائيل: د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هٰغه شخصيت دے کوم ته چې **الله** پاک فاروق لقب ورعطا کړو ځکه چې عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ حق د باطِل نه جُدا کړو-(1)

## پهٔ اسمانونو کښې د هغوئي نوم "فاروق" دے

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهما نه روايت دے چې خَاتَمُ المُرسَلِين، رَحمةٌ لِّلعَالَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: زهٔ پهٔ جومات کښې ناست ووم، د جبريلِ امين [عَلَيْهِ السَّلَام] سره مې خبرې کولې چې ناڅاپه عمر بن خطاب راغلو- جبريلِ امين ووئيل: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا دا عمر خو نهٔ دے؟ ما ووئيل: آؤ دے - او اے جبريله! آيا د زمکې پهٔ شان پهٔ اسمانونو کښې هم د دوئي څهٔ خاص نوم شته ؟ جبريل ووئيل:

---

1...تاريخ مدينه دمشق، جلد:44، صفحه:50-

اِنَّ اِسْمَهٗ فِی السَّمَاءِ اَشْهَرُ مِنْ اِسْمِهٖ فِی الْاَرْضِ اِسْمُهٗ فِی السَّمَاءِ فَارُوْقٌ وَفِی الْاَرْضِ عُمَرُ

**يعنې:** يَا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! پهٔ اسمانونو کښې چې کوم د دوئي نوم دے هغه د زمکې پهٔ نسبت ډير مشهور دے، پهٔ زمکه کښې د دوئي نوم عمر دے او پهٔ اسمانونو کښې د دوئي نوم فارُوق دے۔(1)

## د جَنَّتي وَنو پهٔ پاڼو باندې د هغوئي نوم فارُوق ليکلے شوے دے

د عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه روايت دے چې د دواړو جهانو مالِک او مختار، مکي مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے:

فِی الْجَنَّةِ شَجَرَةٌ مَا عَلَيْهَا وَرَقَةٌ اِلَّا مَكْتُوْبٌ عَلَيْهَا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ اَبُوْبَكْرِنِ الصِّدِّيْقُ عُمَرُ الْفَارُوْقُ عُثْمَانُ ذُو النُّوْرَيْنِ

**يعنې:** پهٔ جَنَّت کښې يوه ونه ده د کومې پهٔ هره پاڼه چې دا ليکلي شوي دي: د **الله** پاک نه علاوه څوک هم معبود نشته، مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رسول دے، ابو بکر صِدّيق دے، عمر فاروق دے، عثمان ذُو النُّورَين دے۔(2)

## د قيامت پهٔ ورځ به هغوئي پهٔ " فارُوق " نوم رابللے شي

پهٔ حديثِ پاک کښې دي چې د قيامت پهٔ ورځ به داسې اواز کيږي چې عمر فاروق

---

[1]... رياض النضرة، الباب الثاني...الخ، الفصل الثاني...الخ، جز:2، صفحه:235، رقم:570۔

[2]... معجم کبير، جلد:11، صفحه:269، حديث:10930۔

چرته دے؟ هغه دې حاضر کړے شي نو **الله** پاک به اِرشاد فرمائي: اے ابو حفص! ستا دې اُمبارک شي، دا ده ستا اعمال نامه، که غواړې نو ویې لوله ګنې مۀ یې لوله ځکه چې ما تۀ بخښلے یې۔[1]

## تاسو هم فارُوق جوړ شئ---!!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فارُوق دے، یعنې پۀ حق او پۀ باطِل کښې فرق کوونکے دے، هغوئي د حق نه بغیر نشو پاتې کېدے، باطِل به یې نشو برداشت کولے، د دې نه مونږ ته هم سبق میلاؤیږي، مونږ یقیناً چې **د هٰغه شان والا فاروق** خو نشو جوړیدے، البته! پۀ حق او پۀ باطِل کښې د فرق کولو صفت پۀ مونږ کښې هم پکار دے۔

دا ضروري دي چې مونږ پۀ حق باندې دومره مضبوط یو چې چرته قدم ږدو، هلته حق غالِب شي۔ تاسو به داسې خلق لېدلي وي د کومو پۀ لېدو چې ◈ خلق سندرې بندوي ◈ د لرې نه چې یې وویني چې فلانکے صاحب راروان دے نو که فِلم وغیره یې لګولے وي نو بندوي یې ◈ زمونږ پۀ خاندان کښې داسې خلق وي، که د وادۀ ښادۍ وغیره څۀ دستوره (*Function*) وي نو **الله** پاک دې معاف کړي، ماحول داسې وي چې زنانه بې پردې وي، پۀ داسې ماحول کښې ځینې داسې خلق وي، د کومو پۀ لېدو چې زنانه پرده کوي۔

نو دا زمونږ حیثیت پکار دے، پۀ خپل کور کښې، پۀ خپل خاندان کښې، پۀ کوڅۀ

---

[1]... ریاض النضرة، الباب الثانی...الخ، الفصل الثانی...الخ، جز:2، صفحه:235، رقم:571ملتقطاً۔

محله کښې، پهٔ دوستانو خپلوانو کښې، خپل کَير چاپيره پهٔ ناستو خلقو کښې زمونږ د شخصيت دا معيار پکار دے، چې خلقو ته پته وي چې ◈ دے سندرې نۀ خوښوي ◈ دے فلمونه نۀ ګوري ◈ دے غيبت نۀ اوري ◈ دے چغلي نۀ اوري ◈ د دهٔ پهٔ مخکښې پهٔ چا پسې بد نشي وئيلے کېدے ◈ که فلانکے کور ته رابلل وي نو سندرې سازونه به بندول وي ◈ زمونږ د کور ماحول داسې وي چې څوک مېمله راشي نو هغهٔ ته معلومه وي چې دې کور ته پهٔ راتللو به نـمونځونه کول وي ◈ دلته زهٔ د موبائل غلط اِستعمال نشم کولے۔

## شيطان لکۍ راغونډه کړي او وتښتي

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ حيثيت ته وګورئ چې څنګه ښکلے وو، اِنسان خو اِنسان دے، د هغوئي د کورنۍ والا خو خير وو هم د تقویٰ او پرهيزګارۍ والا، خو د ګناهونو پهٔ جرړې ، پهٔ بد بخته شيطان باندې د هغوئي داسې رُعب وو چې هغوئي به يـې وليدلو نو شيطان به هم لاره بدله کړه۔ پهٔ حديثِ پاک کښې دي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: وَالَّذِیۡ نَفۡسِیۡ بِیَدِہٖ، مَا لَقِیَکَ الشَّیۡطَانُ سَالِکًا فَجًّا اِلَّا سَلَکَ فَجًّا غَیۡرَ فَجِّکَ يعنې پهٔ هٰغه ذات مې دې قَسم وي د کوم پهٔ قبضه کښې چې زما ساه ده ، اے عمره! شيطان چې پهٔ لاره باندې تا ووينې نو لاره بدله کړي او پهٔ بله لار باندې روان شي۔(1)

پهٔ يو حديثِ پاک کښې فرمائي: بے شکه ما شيطانان پيريان او د شيطان (پهٔ شان

---

[1]…بخاری، کتاب بدء الخلق، باب صفة ابلیس و جنوده، صفحه:840، حدیث:3294۔

طبيعت لرونکي) اِنسانان د عمر نه پهٔ تښتېدو لېدلي دي-[1]

سُبْحٰنَ الله! دا اثر دے د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې چرته هغوئي وي، هلته شيطان نهٔ راځي- بلکې د حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ نوم مبارک کښې هم داسې اثر دے چې شيطان ترې تښتي - علمائے کرامو لیکلي دي: کوم اِنسان له چې شيطان پهٔ خوب کښې راځي او تنګوي يې، يعني د شيطان د شرارت پهٔ وجه بيا بيا پهٔ هغهٔ پهٔ خوب کښې غسل فرض کیږي، هغه دې د شپې د اودهٔ کېدو پهٔ وخت د خپلې ګوتې پهٔ ذريعه، پهٔ سينه باندې عمر وليکي، د شيطان جرأت به نهٔ کيږي چې پهٔ خوب کښې راشي او هغه پرېشانه کړي-

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! دا د هغوئي د نوم مبارک اثر دے- خو افسوس چې مونږ د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عاشقان ◈ د وادهٔ پهٔ دستوره کښې موجود يو خو هلته سندرې سازونه نهٔ بنديږي ◈ زمونږ پهٔ موجودګۍ کښې غيبتونه کيږي، زمونږ پرې هيڅ پروا نهٔ وي ◈ زمونږ پهٔ موجودګۍ کښې کور والا نـمونځونه نهٔ کوي او زمونږ پرې هډو پروا نهٔ وي ◈ زمونږ پهٔ موجودګۍ کښې ګناهونه کيږي او مونږ د دې هډو فِکر نهٔ کوو-

## د نیکۍ دعوت ورکوئ

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي- مونږ له د نيکۍ دعوت ورکول پکار دي- پهٔ مينه، پهٔ محبت، پهٔ نرمۍ، پهٔ حکمت سره، پهٔ چا سختي نهٔ دي کول، چا ته پهٔ تيز اواز او غصه کيدل هم نهٔ دي پکار، د څو پورې چې شريعت اِجازت درنکړي، خبرې اترې د

---

[1]... ترمذی، ابواب المناقب... باب فی مناقب ابی حفص...الخ، صفحه:841، حدیث3700۔

چا سره بندول نۀ دي پکار، بس هر يو ته پۀ مينه محبت د نيکۍ دعوت ورکول دي- چې مونږ هر وخت، پۀ هر ځائے کښې، هر يو ته د نيکۍ د دعوت ورکولو والا جوړ شو نو پۀ ورو ورو به د خلقو پۀ ذِهنونو کښې پخپله مونږ ښه جوړ شو-

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د نيکۍ دعوت ورکړو

روايت دے: د مسلمانانو پۀ دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې کله د قتل حمله وشوه، هغوئي ډير زخمي وو، هغه وخت خلق د هغوئي د تپوس د پاره راتلل، يو ځوان حاضر شو، هغۀ تپوس اوکړو، کله چې هغه روان شو نو هغوئي وليدل چې د هغه پرتوګ د ښپو د ګِيټو نه لاندې پۀ زمکه راښکلے کيږي، وه يې فرمائيل: هغه واپس راوبلئ! هغه واپس راوستے شو- هغوئي پۀ مينه وفرمائيل: يَاابۡنَ اَخِیۡ! اِرۡفَعۡ ثَوۡبَكَ فَاِنَّهٗ اَنۡقٰى لِثَوۡبِكَ وَاَتۡقٰى لِرَبِّكَ اے ورارۀ! کپړې بَره کړه! (يعنې د ګِيټو نه يې بره ساته!) داسې به ستا جامې صفا وي او ستا د رَبّ پۀ نزد به د تقویٰ او د پرهيزګارۍ ذريعه جوړيږي-(1)

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ جذبې ته وګورئ! زخمي دے، پۀ سخت تکليف کښې دے، د مرګ پۀ بستره باندې پروت دے، د دې باوجود د نيکۍ دعوت عام کوي-

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]...ابن حبان، کتاب اخبارہ عن...الخ، ذکر رضا المصطفیٰ عن عثمان...الخ، صفحه:1844، حديث:6917۔

# د مسلمان اُمت ذِمه واري

**اللّٰه** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

(پاره:4، سورهٔ آلِ عمران:110)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: (اے مسلمانانو!) تاسو بهترين اُمت يئ کوم چې د خلقو (د هدايت) د پاره ښکاره کړے شو، تاسو د نیکئ حُکم ورکوئ او د بدئ نه منع کوئ او پهٔ **اللّٰه** اِیمان لرئ۔

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: ټول مسلمانان مُبلِّغان دي، پهٔ ټولو باندې فرض دي چې خلقو ته د ښو خبرو حُکم ورکړي او د بدو خبرو نه يې منع کړي۔[1] زمونږه خوږ آقا و مولا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **بَلِّغُوْا عَنِّيْ وَلَوْ اٰيَةً** یعني زما د طرف نه ورسوئ اګر که هم یو آیت وي۔[2]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ دې لږ غور اوکړو! مونږ چې د دِین د څومره خبرو نه خبر یو، آیا هغه خبرې مونږ نورو ته رسوو؟ ◈ چا ته پته نشته چې 5 نمونځونه فرض دي؟ آیا مونږ نورو له د نمونځ دعوت ورکوو؟ ◈ چا ته پته نشته چې د رمضان روژې فرض دي؟ آیا مونږ د روژو د نیولو دعوت ورکوو؟ ◈ چا ته نهٔ ده معلومه چې د قرآنِ پاک

---

1…تفسیر نعیمی، پاره:4، سورهٔ اٰل عمران، زیرِ آیت:104، جلد:4، صفحه:79۔

2…بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، صفحه:888، حدیث:3461۔

تِلاوت د نیکئ کار دے؟ آیا مونږ د قرآنِ پاک د تِلاوت دعوت ورکوو؟ ◈ چا ته معلومه نۀ ده چې د سود لین دین، سندرې اوریدل، فلمونه ډرامې کتل، بے پردګي وغیره دا ټول ګناهونه دي؟ ایا مونږ د دې نه خلق منع کوو؟ افسوس! پۀ مونږ کښې ډېر خلق داسې دي کوم چې دا کار نۀ کوي (یعني د ډېرو څیزونو نه د خبرېدو باوجود هم د نیکئ د دعوت ورکولو نه محرومه پاتې کیږي)، مونږ چې د څومره دِین نه خبر یو، هُغه همره خلقو ته نۀ رسوو او د نور عِلم د زده کولو کوشش نۀ کوو۔

## د بهترین اِنسان نخښې

**پۀ حدیثِ پاک کښې دي:** چا د حُضُورِ اَنور، د مکے مدینے د تاجوَر صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوکړه: بهترین اِنسان څوک دے؟ وه یې فرمائیل: د **الله** پاک نه ویریدونکے، صِله رحمي (یعني د خپلوانو سره ښه سلوک) کوونکے، ښې خبرې بیانوونکے او د بدو نه منع کوونکے۔[1]

## د الله او د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خلیفه څوک---؟

اِمامِ حَسَن بَصَري رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: څوک چې د ښه خبرو حُکم ورکوي، د بدو نه منع کول کوي، هغه د **الله** پاک هم خلیفه دے او د هغۀ د رسول (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) هم او د هغۀ د کتاب (یعني د قرآنِ کریم) هم خلیفه دے۔[2]

---

[1] ...شُعب الایمان، باب فی صلة الارحام، جلد:6، صفحه:220، حدیث:7950۔

[2] ...تفسیر روح المعانی، پاره:4، سورۀ اٰل عمران، زیرِ آیت:104، جلد:4، صفحه:326۔

الله پاک دې مونږ ته د نيکۍ د دعوت ورکولو، د ګناهونو نه د بچ کېدو او د نورو د بچ کولو توفيق راعطا کړي- کاش چې مونږ خپل ځان په ښه ثابتولو کښې کامياب شو چې خلق مونږ ووينې او ګناه پرېږدي او د نيکو طرف ته راشي- اٰمِيْنْ بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## يوم فاروق ونمانځئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! په ورومبي مُحَرّم الحَرام يوم فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ده، په دې ورځ باندې هغوئي شهيد کړے شوے وو، ځکه ◈ د نيک مؤمِن، د ډير پوخ دِين والا، د عظيم الشان صحابئ رسول، د مسلمانانو د دويم خليفه، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وزير حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ياد ونمانځئ! ◈ په کور کښې ◈ په دفتر کښې ◈ په دُکان کښې ◈ چرته چې کيدے شي، د هغوئي ياد ونمانځئ! د هغوئي د اِيصالِ ثواب بندوبست اوکړئ! ◈ که کيدے شي نوخه شيريني هم تقسيم کړئ! ◈ که کيدے شي نو مختصر شان محفل جوړ کړئ! ◈ په کور کښې خو لازمي بندوبست اوکړئ! ❁ ټول کور والا راجمع کړئ او د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذِکرِ خير اوکړئ! ❁ د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله ده: کراماتِ فاروقِ اعظم- دا رساله د مکتبة المدينه نه واخلئ يا يې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه ډاؤن لوډ کړئ! دا رساله په کور کښې ولولئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به مو نصيب شي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: د تفسير اوريدو او بيانولو حلقه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پهٔ زړهٔ کښې د عشقِ رسول د زياتولو، پهٔ سُنَّتو باندې د تللو، د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو، د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د محبت حاصلولو، د هغوئي پهٔ نقشِ قدم باندې د تللو د جذبې حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ او د ذيلي حلقې پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم ښهٔ پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي- د ذيلي حلقې پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د تفسير اوريدو او بيانولو حلقه** هم ده-

◈ **قرآنِ مجيد زده کول ډير د فضيلت کار دے:** ◈ پهٔ حديثونو کښې داسې قسم مضمون دے: چې پهٔ داسې حال کښې سبا کړه چې يا خو تهٔ عالِم يې او يا د دِين طالبِ عِلم [1] ◈ د يو روايت مطابق سحر د قرآنِ مجيد يو آيت زده کول د 100 رکعتو نفلونو کولو نه بهتر دے- [2]

◈ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي عاشقانِ رسول د سحر د نـمونځ نه پس د تفسير اوريدو او نورو ته د اورولو حلقه لګوي ◈ پهٔ دې کښې د قرآنِ پاک درې آيتونه ◈ د هغې ترجمه او تفسير اوريدے او اورولے شي ◈ د فيضانِ سُنَّت دَرس ورکولے شي ◈ شجره شريف

---

[1]... دارمی، المقدمة، باب فی ذهاب العلم، صفحه:96، حديث:254-

[2]... ابن ماجه، باب فضل من تعلم القرآن و علمه، صفحه:48، حديث:219-

لوستلے شي ◈ دُعا کیږي او ◈ پهٔ آخِره کښې د اشراق او څاخت نـفلونه هم ادا کولے شي۔

**◈ تاسو هم د تفسیر اوریدو او نورو ته د بیانولو پهٔ حلقه کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ!** اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! ډیر برکتونه به درنصیب شي ◈ د حدیثِ پاک مطابق څوک چې سحر جومات ته د نیکۍ زده کولو د پاره لاړ شي، هغه ته د عمرې ثواب میلاویږي۔ [(1)] ◈ چې د سحر وخت پهٔ نیکو کښې تیر شي نو برکت به مو نصیب کیږي ◈ ټوله ورځ به مو ښهٔ تیریږي ◈ سحر سحر به مو د عِلمِ دِین زده کولو موقع نصیب کیږي ◈ د شجره شریف پهٔ شکل کښې به د نیکانو بندګانو ذِکر کیږي ◈ د هغوئي محبت به پهٔ زړهٔ کښې کښیني ◈ د اولیائے کرامو رُوحاني توجه به درنصیب کیږي ◈ ایمان به مو تازه کیږي ◈ د هغوئي پهٔ وسیلې سره شوې دُعاګانې به اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! قبلیږي ◈ یو ډیر لوئې برکت دا چې **د سحر د نـمونځ نه تر اشراق پورې پهٔ جومات کښې ایساریدل د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي** پهٔ دې باندې به د عمل کولو سعادت درنصیب کیږي ◈ د حدیثِ پاک مطابق څوک چې د سحر د نـمونځ نه پس پهٔ ذِکرُ الله کښې مشغول اوسي، بیا د اشراق، څاښت نفلونه وکړي، هغه ته به د دوزخ وور نهٔ ورنزدې کیږي۔ [(2)]

## ویزې میلاؤ شوې

راځئ چې ستاسو د ترغیب د پاره یو مَدَني سپارلے واورو، یو اِسلامي ورور تقریباً د 14

---

[1]... مستدرک، کتاب العلم، باب من جاء المسجد...الخ، جلد:1، صفحه:281، حدیث:317۔

[2]... شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحه:420، حدیث:3957۔

کالو نه پهٔ بهر ملک کښې وو چرته چې د هغهٔ خپل کاروبار وو، هغه ته يو ځل پهٔ کارخانه کښې د کار کوونکو ضرورت پيښ شو- هغهٔ د ويزو د پاره بيا بيا درخواستونه جمع کړل، خو د ډيرو کوششونو باوجود ويزې ميلاؤ نه شوې- ډير کلونه داسې تير شول، هغه ډير پريشانه وو ځکه چې د ملازمانو د نشتوالي پهٔ وجه د هغه نقصان کيدو- خير هغه همت وکړو يو ځل يې بيا درخواست جمع کړو، پهٔ دغه وخت کښې يو اِسلامي ورور هغه ته د **شجرهٔ قادريه عطاريه** نه د شجرهٔ عَالِيَه د دُعائيه شعرونو لوستلو مشوره ورکړه- هغه د شجرې شريف دعائيه شعرونه پرله پسې لوستل شروع کړل- اَلْحَمْدُلِلّٰه! **د شجرهٔ قادريه رضويه ضيائيه عطاريه** لوستو پهٔ برکت د هغهٔ ءغه کار کوم چې د تيرو ډيرو کلونو راسې نه کيدو، ډير پهٔ حيرانی سره پهٔ يو څو ورځو کښې وشو او هغه ته ويزې ميلاؤ شوې-

مُشکليں حَل کر شہِ مُشکل کُشا کے واسطے | کر بَلائیں رَد شہیدِ کربلا کے واسطے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مَعرِفَةُ الـقُرآن موبائل ايپلي کيشن تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن پهٔ نوم د **مَعرِفَةُ الـقُرآن** جاري کړے دے- تاسو د دې ايپلي کيشن پهٔ ذريعه ◈ د قرآنِ پاک لفظي او با مُحَاوَرَه ترجمه لوستلے شئ ◈ پهٔ دې ايپلي کيشن کښې د آيتونو عنوانات هم ورکړے شوي دي، د کومو پهٔ مدد چې د خپلې خوښې مطابق موضوع او قرآني آيتونه کتلے او لټولے شئ- خصوصاً مبلغ اِسلامي

ورونه د دې آپشن نه ډېر مدد اخستے شي ◈ پۀ دې ايپلي کيشن کښې سرچ آپشن هم موجود دے، د کوم پۀ مدد چې د آيتونو پۀ لټولو کښې اساني پيدا کيږي ◈ د موضوعاتو د پن پوائنټ کولو آپشن هم ورکړے شوے دے۔ تاسو هم دا ايپلي کيشن انسټال کړئ! پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

◈ اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د مُحَرَّم شريف ورومبي تاريخ نه د 11 مُحَرَّم شريف پورې به د مدني مذاکرو لړۍ روانه وي، دا مدني مذاکرې به روزانه د شپې پاؤ کم لس 9:45 بجې پۀ مدني چينل نيغ پۀ نيغه نښودلے کيږي، ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله خلور بدۍ اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ◈ مکتبة المدينه د 2 جلدونو يو اهم کتاب پۀ نوم د فيضانِ فاروق اعظم چاپ کړے دے۔ پۀ کوم کښې چې تاسو د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سيرت او فضيلتونه او د هغوئي د ژوند اِيمان تازه کوونکې واقعې لوستلے

شئ۔ دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يوې خانګې نه ورومبے جلد پۀ **1300 روپۍ** او دويم جلد پۀ **1170 روپۍ** پۀ بيعه واخلئ۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب ! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خورو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي۔[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## پۀ مُحَرَّم شريف کښې روژه نيول سُنَّت دي

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَفْضَلُ الصِّیَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَھْرُاللّٰہِ الْمُحَرَّم يعنې د رمضان نه پس د ټولو نه افضلې روژې د مُحَرَّم د مياشتې دي کومه چې د الله پاک مياشت ده۔[2]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د عاشورې يعنې د 10 مُحَرَّم شريف روژه د خوږ آقا و مولا،

---

1...تاريخ مدينه دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...مسلم، كتاب الصيام، باب فضل صوم المحرم، صفحه:424، حديث:1163۔

مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي، حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهما فرمائي: د عاشورې يعنې د 10 **مُحَرَّم شريف** روژه نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله هم نيولې او د دې د نيولو حُکم يـې هم اِرشاد کړے۔ (1)

د روايتونو مطابق ◈ د **مُحَرَّم شريف** د هرې ورځې روژه د يوې مياشتې د روژو برابر ده۔ (2) ◈ خاص طور د عاشورې د روژې متعلق خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زما پهٔ **الله** پاک باندې گمان دے چې د عاشورې د ورځې روژه د يو کال مخکښني گناهونه ورانوي۔ (3) ◈ البته صرف د لسم **مُحَرَّم شريف** روژه دې نهٔ نيولے کيږي بلکې د 9 يا د 11 مُحَرَّم روژه دې ورسره هم يو ځائے کړے شي، اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د عاشورې د ورځې روژه نيسئ او پهٔ دې کښې د يهوديانو (داسې) مخالفت کوئ چې د دې نه مخکښې يا وروستو هم يوه ورځ روژه نيسئ۔ (4)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده

---

[1]… بخاری، کتاب الصوم، باب صيام يوم عاشوراء، صفحه:524، حديث: 2004 ملتقطاً۔

[2]… ترغيب و ترہيب، کتاب الصوم، الترغيب فی صيام... الخ، صفحه:349، حديث:4۔

[3]… مسلم، کتاب الصيام، باب فضل استحباب صيام... الخ، صفحه:423، حديث:1162۔

[4]… مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:100، حديث:2191۔

کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| پاؤگے بخششیں قافلے میں چلو | جنّتیں بھی ملیں ، قافلے میں چلو |
| رِزق کے دَر کُھلیں ، قافلے میں چلو | برکتیں بھی ملیں ، قافلے میں چلو |

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِیۡن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمۡ وَبَارِکۡ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِیِّ الۡاُمِّیِّ الۡحَبِیۡبِ الۡعَالِی الۡقَدۡرِ الۡعَظِیۡمِ الۡجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحۡبِہٖ وَسَلِّمۡ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت پهٔ مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مَدَني آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.

(1) راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي كه ولاړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف کړے شي. (2) راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي پهٔ هغهٔ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. (3) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. (4) راځئ چې پهٔ

---

1... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحه:151، خلاصةً۔

2... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحه:65۔

3... قَوْلُ البَدِیْع، باب ثانی، صفحه:277۔

4... اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

شریکه یـې ووائیو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم قُرب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مینځه کښېنولو، پۀ دې باندې صَحابَۀ کرام رضی اللہ عنہم حیران شو چې دا څوک اوچتې مرتبې والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم وفرمائیل: دے چې کله پۀ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې یـې لوَلي. [1] راځئ چې مونږ یـې هُم پۀ شریکه ووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د هغۀ د پاره زما شفاعت واجب شي. [2] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شریکه ووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر [1000] ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوایت دے چې مَدَني آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر [1000] ورځو پورې نیکۍ لیکي. [3] راځئ

---

1...قَوْلُ البَدِیْع، باب اَوَّل، صفحه:125۔

2...الترغیب والترہیب، کِتَابُ الذِّکر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حدیث:30۔

3...مَجْمَعُ الزَّوائِد، کِتَابُ الْاَدْعِیَه، جلد:10، صفحه:254، حدیث:17305۔

چې مونږ يـې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يـې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغهٔ چې شبِ قدر حاصل کړو-[1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **الله** پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، **الله** پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415